# بېشکه فتنې به راشي، خبر اوسئ! بیا به داسې فتنې راشي چې ناست به پکې له روان څخه غوره وي، او روان به پکې له منډه وهوونکي څخه غوره وي چې منډې وروهي،

له عثمان الشحام څخه روایت دی: زه او فرقَد السبخي مسلم بن أبي بکره ته ورغلو، حال دا چې هغه په خپله ځمکه کې و، مور ورننووتو او ورته مو وویل: آیا تا له خپل پلار څخه د فتنو په اړه کوم حدیث اورېدلی؟ ویې ویل: هو، ما له ابوبکرة رضي الله عنه څخه اورېدلي، هغه روایت کاوه، ویې ویل چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «بېشکه فتنې به راشي، خبر اوسئ! بیا به داسې فتنې راشي چې ناست به پکې له روان څخه غوره وي، او روان به پکې له منډه وهوونکي څخه غوره وي چې منډې وروهي، خبر اوسئ! کله چې دا فتنه راکښته یا واقع شي، نو څوک چې اوښان ولري، نو د خپلو اوښانو خوا ته دې لاړ شي، او څوک چې پسونه ولري، نو د خپلو پسونو خوا ته دې لاړ شي، او څوک چې ځمکه ولري، نو د خپلې ځمکې خوا ته دې لاړ شي، یو سړي وویل: اې د الله رسوله! که څوک نه اوښان ولري، نه پسونه او نه ځمکه، نو څه به کوي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خپله توره دې واخلي، او د هغې تېغ دې په ډبره وټکوي، بیا دې ځان وژغوري که د ژغورنې توان یې درلوده، بیا یې درې ځلې وویل: اې الله! آیا ما پیغام ورساوه؟ اې الله! آیا ما پیغام ورساوه؟ اې الله! آیا ما پیغام ورساوه؟ بیا یو سړي وویل: اې د الله رسوله! که زه مجبور کړای شم، تر دې چې یو صف یا یوې ډلې ته بوتللی شم، او یو سړی ما په توره ووهي، یا یو غشی راشي او زه پرې ووژل شم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه به د خپلې ګناه او ستا د ګناه بار واخلي، او له دوزخیانو څخه به شي».

[صحیح] [مسلم روایت کړی]

عثمان الشحام او فرقد السبخي له مسلم بن أبي بکرة رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چې: آیا له خپل پلار څخه دې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسې کوم حدیث اورېدلی چې د مسلمانانو ترمنځ د فتنو او جګړو په اړه وي؟ هغه وویل: هو، رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی، چې له ده وروسته به فتنې راشي، او په دغو فتنو کې به ناست، غافل کس چې فتنو کې لاسوهنه نه کوي له هغه کس څخه غوره وي چې پکې روان وي، او روان کس به له هغه کس څخه غوره وي چې فتنو ته ځان مخکې مخکې کوي او برخه پکې اخلي. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه چا ته لارښوونه وکړه چې که فتنه د هغه په زمانه کې راښکته شي یا واقع شي، او ده ته کوم پناه ځای موجود وي، نو هلته دې ولاړ شي؛ نو څوک چې اوښان لري چې څري، نو د خپلو اوښانو خوا ته دې لاړ شي، او څوک چې پسونه لري او څري، نو د خپلو پسونو خوا ته دې لاړ شي، او څوک چې ځمکه او کرونده لري، نو د خپلې ځمکې خوا ته دې لاړ شي. یوه سړي وویل: اې د الله رسوله! ته د هغه کس په اړه څه وایې چې نه اوښان لري، نه پسونه او نه ځمکه؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه دې خپله وسله (توره) واخلي، ماته دې یې کړي او خرابه دې کړي، بیا دې وتښتي او خپل ځان او اولاد دې وژغوري که د ژغورنې توان ولري. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم درې ځلې شاهدي ورکړه او ویې فرمایل: اې الله! آیا ما پیغام ورساوه؟ اې الله! آیا ما پیغام ورساوه؟ اې الله! آیا ما پیغام ورساوه؟ نو یوه سړي وویل: اې د الله رسوله! ته څه وایې که زه مجبور کړای شم چې له یوه صف یا یوې ډلې سره ګډون وکړم، بیا یو سړی ما په توره ووهي، یا یو غشی راشي او ما ووژني؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه به د خپلې ګناه او د هغه کس د ګناه بار واخلي چې هغه یې وژلی، او د قیامت په ورځ به د دوزخ له خلکو څخه وي.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee